# الممتحنة

**مدنی سورة دی ۱۳ آیتونه لری**

بِسۡمِ ٱللَّهِ ٱلرَّحۡمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ لَا تَتَّخِذُواْ عَدُوِّي وَعَدُوَّكُمۡ أَوۡلِيَآءَ تُلۡقُونَ إِلَيۡهِم
بِٱلۡمَوَدَّةِ وَقَدۡ كَفَرُواْ بِمَا جَآءَكُم مِّنَ ٱلۡحَقِّ يُخۡرِجُونَ ٱلرَّسُولَ وَإِيَّاكُمۡ أَن
تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ رَبِّكُمۡ إِن كُنتُمۡ خَرَجۡتُمۡ جِهَٰدٗا فِي سَبِيلِي وَٱبۡتِغَآءَ مَرۡضَاتِيۚ
تُسِرُّونَ إِلَيۡهِم بِٱلۡمَوَدَّةِ وَأَنَا۠ أَعۡلَمُ بِمَآ أَخۡفَيۡتُمۡ وَمَآ أَعۡلَنتُمۡۚ وَمَن يَفۡعَلۡهُ
مِنكُمۡ فَقَدۡ ضَلَّ سَوَآءَ ٱلسَّبِيلِ ١

**ای د ایمان خاوندانو! له خپلو دښمنانو او زما له دښمنانو سره دوستی مه کوئ. تاسو له هغوی سره د دوستئ تارونه تړئ، او هغوی، تاسو ته له راغلی حق( قرآن) نه منکر دی.( د الله) رسول او تاسو یې یوازې له دې امله له خپل کلی کوره وویستئ چې پخپل رب ایمان لرئ. که تاسو ربښتیا هم زما په لار کې د جهاد او زما د خوښئ لپاره راوتلی یاست، نو له هغوی سره دوستی مه کوئ.( او مه) ورته پټ دوستانه پیغامونه استوئ، زه ستاسو په پټو او ښکاره ټولو کړنو ډېر ښه پوهیږم، او ستاسو څخه چې څوک له هغوی سره د دوستئ مزې تېنګوی، بې له شکه چې (د هدایت) له مستقیمې لارې، بې لارې شوی دی.**

إِن يَثۡقَفُوكُمۡ يَكُونُواْ لَكُمۡ أَعۡدَآءٗ وَيَبۡسُطُوٓاْ إِلَيۡكُمۡ أَيۡدِيَهُمۡ وَأَلۡسِنَتَهُم
بِٱلسُّوٓءِ وَوَدُّواْ لَوۡ تَكۡفُرُونَ ٢

**هغوی ستاسو دښمنان دی، که لاس یئ دربانډې بر شی،( نه مو په نیولو، زورولو او وژلو صرفه کوی، او نه مو په سپکولو او تحقیرولو) بلکه قولاً او عملاً یې هڅه دا ده، تر څو تاسو بیرته د کفر او جهالت کندې ته وغورځوی.**

لَن تَنفَعَكُمۡ أَرۡحَامُكُمۡ وَلَآ أَوۡلَٰدُكُمۡۚ يَوۡمَ ٱلۡقِيَٰمَةِ يَفۡصِلُ بَيۡنَكُمۡۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعۡمَلُونَ بَصِيرٞ ٣

د قيامت په ورځ( چې له کافرانو سره د دوستۍ سزا درکړی کیږی) ستاسو خپلوان او اولادونه به ستاسو د هیڅ درد دوا نشی، بلکه ستاسو او هغوی ترمنځ به جدایی پیدا شی، او الله تعالی ستاسو کړنې ډیرې ښې وینی.

قَدۡ كَانَتۡ لَكُمۡ أُسۡوَةٌ حَسَنَةٞ فِيٓ إِبۡرَٰهِيمَ وَٱلَّذِينَ مَعَهُۥٓ إِذۡ قَالُواْ لِقَوۡمِهِمۡ إِنَّا بُرَءَٰٓؤُاْ مِنكُمۡ وَمِمَّا تَعۡبُدُونَ مِن دُونِ ٱللَّهِ كَفَرۡنَا بِكُمۡ وَبَدَا بَيۡنَنَا وَبَيۡنَكُمُ ٱلۡعَدَٰوَةُ وَٱلۡبَغۡضَآءُ أَبَدًا حَتَّىٰ تُؤۡمِنُواْ بِٱللَّهِ وَحۡدَهُۥٓ إِلَّا قَوۡلَ إِبۡرَٰهِيمَ لِأَبِيهِ لَأَسۡتَغۡفِرَنَّ لَكَ وَمَآ أَمۡلِكُ لَكَ مِنَ ٱللَّهِ مِن شَيۡءٖۖ رَّبَّنَا عَلَيۡكَ تَوَكَّلۡنَا وَإِلَيۡكَ أَنَبۡنَا وَإِلَيۡكَ ٱلۡمَصِيرُ ٤

ستاسو لپاره د ابراهیم او د هغه د پیروانو( په کړنلاره) کې د عبرت ډیر ښه درس پروت دی، چې خپل قوم ته یې وویل: مونږ ستاسو او ستاسو له باطلو خدایانو څخه چې د الله تعالی په مقابل کې مو غوره کړی، بیزاره یو. مونږ تر هغه ستاسو سره (د هرډول روابطو د پریکون او) درسره د ابدی دښمنۍ او نفرت اعلان کوو، چې په واحد او لاشریک ذات الله تعالی ایمان راوړی. خو خپل پلار ته د ابراهیم علیه السلام خبره جلا ده چې ورته یې وویل: زه ستا لپاره د بښنې دعا کوم خو د الله تعالی د فیصلې په مقابل کې درته هیڅ ګټه نشم رسولی. ای ربه! په تا توکل کوو- ستا حضور ته پناه دروړو - او بیشکه چې د ټولو درتګ بالاخره ستا حضور ته دی.

رَبَّنَا لَا تَجۡعَلۡنَا فِتۡنَةٗ لِّلَّذِينَ كَفَرُواْ وَٱغۡفِرۡ لَنَا رَبَّنَآۖ إِنَّكَ أَنتَ ٱلۡعَزِيزُ ٱلۡحَكِيمُ ٥

ای ربه! مونږ د کافرانو( د زورونې او برلاسۍ) له ازمېښت نه وساته. او ای ربه مونږ ته بښنه وکړه، بې له شکه چې ته (پخپلو ټولو چارو او اقداماتو) برلاسی او د کامل حکمت څښتن ذات یې.

لَقَدْ كَانَ لَكُمْ فِيهِمْ أُسْوَةٌ حَسَنَةٌ لِّمَن كَانَ يَرْجُوا۟ ٱللَّهَ وَٱلْيَوْمَ ٱلْـَٔاخِرَ ۚ وَمَن يَتَوَلَّ
فَإِنَّ ٱللَّهَ هُوَ ٱلْغَنِىُّ ٱلْحَمِيدُ ٦

**بې له شکه چې د دغو خلکو( په ایمان او کړنلاره کې) ستاسو د هغو کسانو لپاره پند او عبرت پروت دی چې الله تعالی او د آخرت ورځې ته هیله من دی، او څوک چې( په دغې کړنلارې پسې له اقتداء نه) مخ ګرځوی( الله تعالی ته کوم زیان نشی رسولی ځکه) الله تعالی بې نیازه او ستایل شوی ذات دی.**

۞ عَسَى ٱللَّهُ أَن يَجْعَلَ بَيْنَكُمْ وَبَيْنَ ٱلَّذِينَ عَادَيْتُم مِّنْهُم مَّوَدَّةً ۚ وَٱللَّهُ قَدِيرٌ ۚ
وَٱللَّهُ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ٧

**لیرې نه ده چې الله تعالی به ستاسو او ستاسو د دښمنانو(کافرانو) ترمنځ( د هغوی په ایمان راوړلو سره) مینه او محبت پیدا کړی. الله تعالی د هر کار قدرت او طاقت لری، او الله تعالی ډیر زیات مهربان او ښنونکی ذات دی.**

لَّا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ لَمْ يُقَـٰتِلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَلَمْ يُخْرِجُوكُم مِّن دِيَـٰرِكُمْ أَن
تَبَرُّوهُمْ وَتُقْسِطُوٓا۟ إِلَيْهِمْ ۚ إِنَّ ٱللَّهَ يُحِبُّ ٱلْمُقْسِطِينَ ٨

**الله تعالی تاسو له هغو کسانو سره د نیکۍ او انصاف څخه، نه منع کوی چې نه د دین په چارو کې ستاسو سره جګړې کوې او نه تاسو له خپل کور کلی نه وباسی. ځکه الله تعالی له انصاف کوونکو سره مینه لری.**

إِنَّمَا يَنْهَىٰكُمُ ٱللَّهُ عَنِ ٱلَّذِينَ قَـٰتَلُوكُمْ فِى ٱلدِّينِ وَأَخْرَجُوكُم مِّن دِيَـٰرِكُمْ
وَظَـٰهَرُوا۟ عَلَىٰٓ إِخْرَاجِكُمْ أَن تَوَلَّوْهُمْ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُمْ فَأُو۟لَـٰٓئِكَ هُمُ ٱلظَّـٰلِمُونَ ٩

**(خو) الله تعالی تاسو له هغو کسانو سره له دوستۍ نه منع کوی، چې ستاسو سره د دین په چارو کې جګړې کوی، له خپلو کورونو څخه مو وباسی او ستاسو په تبعیدولو کې له یو بل سره مرسته کوی( تاسو باید له دغو کسانو او ډلو سره دوستی و نه کړۍ) او څوک چې له هغوی سره دوستانه اړیکې ساتی، بې له شکه چې ظالمان دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا جَآءَكُمُ ٱلۡمُؤۡمِنَٰتُ مُهَٰجِرَٰتٖ فَٱمۡتَحِنُوهُنَّۖ ٱللَّهُ
أَعۡلَمُ بِإِيمَٰنِهِنَّۖ فَإِنۡ عَلِمۡتُمُوهُنَّ مُؤۡمِنَٰتٖ فَلَا تَرۡجِعُوهُنَّ إِلَى ٱلۡكُفَّارِۖ لَا هُنَّ حِلّٞ لَّهُمۡ
وَلَا هُمۡ يَحِلُّونَ لَهُنَّۖ وَءَاتُوهُم مَّآ أَنفَقُواْۚ وَلَا جُنَاحَ عَلَيۡكُمۡ أَن تَنكِحُوهُنَّ إِذَآ
ءَاتَيۡتُمُوهُنَّ أُجُورَهُنَّۚ وَلَا تُمۡسِكُواْ بِعِصَمِ ٱلۡكَوَافِرِ وَسۡـَٔلُواْ مَآ أَنفَقۡتُمۡ وَلۡيَسۡـَٔلُواْ
مَآ أَنفَقُواْۚ ذَٰلِكُمۡ حُكۡمُ ٱللَّهِ يَحۡكُمُ بَيۡنَكُمۡۚ وَٱللَّهُ عَلِيمٌ حَكِيمٞ ١٠

**ای مؤمنانو! کله چې مؤمنانې ښځې( له خپلو کافرانو خاوندانو څخه جلا، او د دارالکفر نه د مهاجرو په توګه) تاسو ته پناه راوړی، نو( لومړی یې) د ایمان پلټنه وکړئ، البته الله تعالی ته هم د هغوی د ایمان جذبه ښه معلومه ده، نو که تاسو ته ثابته شی چې واقعی مؤمنانې دی، بیرته یې کافرانو (څښتنانو) ته مه استوئ، ځکه نه دغه مؤمنې ښځې کافرانو ته حلالې دی او نه هغه کافران دې مؤمنو ښځو ته روا کیږی، خو تاسو باید هغه مهر چې کافرو میرونو یې دې ښځو ته ورکړی، بیرته ورکړئ. او که تاسو دغه مؤمنې ښځې د مهر په بدل کې په نکاح واخلی هیڅ ګناه درباندې نشته، او تاسو هم خپلې کافرې ښځې پخپله نکاح کې مه ساتئ( ځکه ستاسو ترمنځ د شرعی نکاح تړون د هغوی د کفر له امله باطل شوی دی). او هغه مهر چې تاسو دغو میرمنو ته ورکړی( له کافرانو نه بیرته) وغواړئ، او کافر میرونه دې هم خپل هغه مهر ستاسو نه وغواړی (چې خپلو ایمان راوړونکو ښځو ته یې ورکړی و). دا د الله تعالی پریکړه ده چې تاسو ته یې اعلانوی، او الله تعالی په ټولو چارو پوه او حکیم ذات دی.**

وَإِن فَاتَكُمۡ شَيۡءٞ مِّنۡ أَزۡوَٰجِكُمۡ إِلَى ٱلۡكُفَّارِ فَعَاقَبۡتُمۡ فَـَٔاتُواْ ٱلَّذِينَ ذَهَبَتۡ
أَزۡوَٰجُهُم مِّثۡلَ مَآ أَنفَقُواْۚ وَٱتَّقُواْ ٱللَّهَ ٱلَّذِيٓ أَنتُم بِهِۦ مُؤۡمِنُونَ ١١

**که ستاسو( د مرتدو مطلقه) ښځو مهر بیرته تاسو ته در نه کړی شی، نو ( اسلامی حکومت مکلف دی چې دغه د مهر پیسې له غنیمتونو څخه هغو کسانو ته ورکړی چې ښځې یې کافرانو ته تښتیدلی دی) او له الله تعالی نه وویریږئ، هغه ذات چې تاسو وربانديې ایمان لرئ.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلنَّبِيُّ إِذَا جَآءَكَ ٱلْمُؤْمِنَٰتُ يُبَايِعْنَكَ عَلَىٰٓ أَن لَّا يُشْرِكْنَ بِٱللَّهِ شَيْـًٔا
وَلَا يَسْرِقْنَ وَلَا يَزْنِينَ وَلَا يَقْتُلْنَ أَوْلَٰدَهُنَّ وَلَا يَأْتِينَ بِبُهْتَٰنٍ يَفْتَرِينَهُۥ
بَيْنَ أَيْدِيهِنَّ وَأَرْجُلِهِنَّ وَلَا يَعْصِينَكَ فِى مَعْرُوفٍ ۙ فَبَايِعْهُنَّ
وَٱسْتَغْفِرْ لَهُنَّ ٱللَّهَ ۖ إِنَّ ٱللَّهَ غَفُورٌ رَّحِيمٌ ﴿١٢﴾

**ای پیغمبره! کله چې مؤمناني ښځې د بیعت کولو لپاره تاته راشی نو( په دې شرایطو) ترې بیعت واخله چې: له الله تعالی سره به شرک نه کوی، غلا به نه کوی، زنا به نه کوی، خپل اولادونه به نه وژنی( او سقط جنین به نه کوی)، نه به په درواغو او افتراء سره خپل اولاد بل چاته منسوبوی، نه به د بل چا اولاد ځان ته منسوبوی( نه به په چا د زنا تهمت تړی) او نه به په نیکو چارو کې ستا له حکم نه سرغړونه کوی. ( په دغو شرایطو له هغوی نه بیعت واخله) او د الله تعالی له حضوره ورته ښښنه وغواړه ځکه الله تعالی ډیر زیات ښښونکی او مهربان ذات دی.**

يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ لَا تَتَوَلَّوْا۟ قَوْمًا غَضِبَ ٱللَّهُ عَلَيْهِمْ قَدْ يَئِسُوا۟ مِنَ
ٱلْءَاخِرَةِ كَمَا يَئِسَ ٱلْكُفَّارُ مِنْ أَصْحَٰبِ ٱلْقُبُورِ ﴿١٣﴾

**ای مؤمنانو! له هغه قوم( یهودو) سره دوستی مه کوی چې د الله تعالی د قهر او غضب فیصله ورباندې صادره شوې، هغوی له اخروی نیکمرغی نه داسې مایوسه او بې برخې دی، لکه په قبرونو کې پراته کافران( چې له خپل نجات او مغفرت نه) ناامیده پاتې دی.**

**« تمت سورة الممتحنة بفضل الله ورحمته»**

**==========================================**